# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۲۰مه | د ۲۰۲۱ د اگسټ ۱۱مه | ۷۶۱مه گڼه


## کتاب

۴ مخ

## تور سیاست




په اوسني وخت کې د سیاسي گټو په محور ډول ډول تروریستي اعمال تر سره کېږي، چې همدا تروریستي اعمال د سیاسي قدرت د لاسته‌راوړلو، ملت‌گرایی یا ناسیونالیزم او یا هم...

# د جگړې شدت او د کډوالۍ ناورین؛

## د طالبانو د بریدونو له کبله زرگونه بې ځایه شوې کورنۍ جدي بشري مرستو ته اړتیا لري



۳

### کرنې ریاست: د کونړ د شاتو په تولید کې د پام وړ زیاتوالی راغلی



د کونړ د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي چې په دغه ولایت کې د شاتو مچیو روزنې صنعت د پراخېدو او د مالدارۍ سکتور د پیاوړتیا لپاره یې د شاتو مچیو له روزونکو سره په گډه هڅې پیل کړي، څو په دغه ولایت کې د شاتو مچیو روزنې صنعت ته وده او پراختیا ورکړي.

د کونړ د کرنې رییس ضیاالرحمن مومند وايي چې د دغو هڅو په پایله کې د یاد ولایت د شاتو د تولیداتو سرېزې کچه تر پنځه سلنې زیاته شوې ده. نوموړی وايي، په کونړ کې د شاتو مچیو روزلو کاروبار په غوړېدو دی چې اوسمهال لسگونه کسان پکې په کار بوخت دي او له همدې لارې خپله حلاله نفقه لاسته راوړي. د هغه په خبره، د کونړ ولایت د کرنې ریاست په همکارۍ په دغه ولایت کې ٦٨ بابه د شاتو مچیو لوی او واړه فارمونه جوړ شوي دي چې د کال په تېرېدو سره یې مچۍ او د شاتو تولید په زیاتېدو دي.


### د دوحې رواني غونډې ته هیلې

۲ مخ

### د کرونا وبا ضد مبارزه کې د امریکا د رښتیني وضعیت په اړه لومړی نړیوال راپور خپور شو

۲ مخ

### روانه لوبه او دوه احتماله

۳ مخ


### ناټو: که طالبان د زور له لارې واک ته رسېدل غواړي، په رسمیت یې نه پېژنو

د ډي‌پي‌ای الماني خبري اژانس د راپور له مخې، ناټو په افغانستان کې د طالبانو له لوري وروستی تاوتریخوالی غندلی او زیاته کړې یې ده چې د دغې ډلې له لوري پراخ بریدونه او له بشري حقونو سرغړونې د جدي اندېښنې وړ دي.

د ناټو چارواکو ویلي، طالبان باید پوه شي چې که اوربند ونه کړي او د سیاسي خبرو له لارې ستونزې حل نه کړي، نو په هېڅ صورت به د نړیوالې ټولنې له لوري په رسمیت ونه پېژندل شي. دوی زیاته کړې، چې طالبان باید ژر تر ژره د خپلو خلکو پر وړاندې روان تاوتریخوالي ته د پای ټکی کېږدي. هغوی دغه راز ټینگار کړی، چې طالبانو ژمنه کړې چې بشري حقونو ته به درناوی کوي او داډ ورکوي چې افغانستان به د ټولو افغانانو لپاره په خوندي ځان بدلېږي، خو د دوی په وینا، اوسني وضعیت ته په پام طالبانو له خپلو ژمنو سرغړونه کړې او دا چاره به دغه ډله نوره هم یوازې کړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د هېواد په گڼو ولایتونو کې طالبانو خپلو ډله ییزو بریدونو ته زور ورکړی او دې ډلې په نږدې یوه اونۍ کې اووه ولایتونه تر خپلې ولکې لاندې راوستي.

### یوناما: طالبان دې ژر تر ژره پر لویو ښارونو خپل بریدونه ودروي



۲ مخ

### عبدالله: جامعه جهانی درباره بحران بی‌سابقه انسانی در افغانستان بی‌تفاوت نماند



عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحه ملی، در نشست مشترک با حضور نماینده‌گان سازمان ملل متحد، اتحادیه اروپا، امریکا، بریتانیا، روسیه، چین، پاکستان، اوزبیکستان و قطر در دوحه از جامعه بین‌المللی خواسته است که درباره بحران بی‌سابقه انسانی در افغانستان بی‌تفاوت نماند و برای طالبان در مورد صلح پیام واضح بدهد.

عبدالله می‌گوید که جنگ جاری بحران بی‌سابقه بشری را در پی داشته است و صدها هزارتن در نتیجه جنگ‌ها آواره و بی‌جا شده و هزاران تن جان باخته و هزاران تن دیگر زخم برداشته‌اند و «طالبان مرتکب جنایت» شده‌اند.

این نشست با حضور نماینده‌گان کشورهای مذکور دیروز در دوحه پایتخت قطر برگزار شد. عبدالله عبدالله در این نشست با اشاره به نشست قبلی در دوحه گفته است: «چند روز قبل این‌جا در دوحه ۴۸ ساعت با نماینده‌گان طالبان بحث و گفت‌وگو کردیم و روی تسریع مذاکرات و حل سیاسی قضیه با حضور میانجی توافق نمودیم؛ اما طالبان برعکس این تعهد را نقض کردند و جنگ و خشونت را تشدید بخشیدند و حملات تهاجمی خود را به شهرها را آغاز کردند.»

به گفته رئیس شورای عالی مصالحه ملی، در نتیجه گفت‌وگوهای فشرده با طالبان روی قضایای اساسی بحث و تأکید شد تا موضوع محوری حل سیاسی و دست‌یافتن به صلح جامع و همه شمول باشد، اما طالبان آماده بحث روی قضایای اساسی نشدند.


کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی

کابل دریمه ناحیه، د دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### د دوحې رواني غونډې ته هیلې

په قطر کې د افغانستان د سولې درې ورځنۍ غونډه روانه ده چې نن پکې د امریکا، چین، روسیې او پاکستان استازي سره خبرې کوي او ټاکل شوې سبا پکې د سیمې د هېوادونو استازي هم سره جرګه شي او په افغانستان کې د جګړې د درېدو او د سولې د راوستلو پر لارو چارو خبرې وکړي. دا غونډه د ملګرو ملتونو او امریکا په هڅو او د قطر په کوربه‌توب جوړه شوې ده. له کابل څخه د ډاکټر عبدالله په مشرۍ یو پلاوی ورغلی او د طالبانو د پلاوي مشري ملا برادر کوي. د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد هم په دوحه کې دی او امریکایان وایي چې استازی به یې پر طالبانو فشار راوړي چې جګړه ودروي او د سولې خبرې پیل کړي. که څه هم پخوانیو دا ډول غونډو ډېره مثبته پایله نه لرله، خو له دې امله چې جګړه ورځ تر بلې زیاتېږي، ډېرو ښارونو ته پراخېږي او مالي او ځاني زیانونه یې زیاتېږي، نو څکه خلک د سولې په تړاو د هرې هڅې هرکلی کوي او تمه لري چې یو ګام به پکې واخیستل شي. د خلکو تمه دا ده چې دا ځل یو پرېکنده ګام واخیستل شي، د سولې په تړاو یو نوی ګام واخیستل شي چې د سولې په برخه کې مهم پرمختګ وګڼل شي، دا ګام باید داسې وي چې طالبان د جګړې درولو ته قانع کړي. د افغانستان د خلکو هیله ده چې د ټولو هغو خنډونو د لرې کولو لپاره باید عملي ګام واخیستل شي چې د سولې پروسه یې ځنډولې ده. دا که له تور لېسته د طالب مشرانو د ایستلو مسئله وي، که د بندیانو د خوشې کولو چاره او یا هم بل پر انتقالي حکومت توافق وي چې طالبان قانع کړي چې اوسنۍ جګړه ودروي. دا خو ښکاره ده چې یوازې په خبرو او بحثونو حالت نه بدلېږي او نه هم طالبان جګړه دروي، بلکې په عملي ډول باید ګامونه واخیستل شي او د طالبانو یوه برخه غوښتنې باید ومنل شي چې پر ښارونو بریدونه او جګړه ودرول شي. دا چاره د نړۍ او سیمې د هېوادونو توافق او ګډې پرېکړې ته اړتیا لري، څو ټول هغه اړخونه پکې د فشار احساس وکړي چې د سولې په برخه کې یې تر اوسه پورې خنډونه جوړ کړي دي. داسې ښکاري چې د سولې لپاره د جګړې ښکېل افغاني اړخونه هېڅ هم نه کوي، له همدې امله بهرني فشار ته اړتیا ده. د سیمې هغه هېوادونه چې له رواني جګړې اغېزمن کېږي او یا هم وېرېږي او د نړۍ نور هغه هېوادونه چې په افغانستان کې سوله په خپله ګټه ویني او یا هم په رښتیني مانا سوله غواړي، پکار ده چې فرصت ضایع نه کړي. دا ښایي وروستی چانس وي چې یو سیاسي توافق رامنځ ته شي، یو پرمختګ وشي، جګړه ودرول شي، د سولې جدي خبرې پیل شي او شته خنډونه په عملي ډول لرې شي. له دې پرته به بیا د سولې فرصت ضایع شي، ښارونه به نړېدلي وي، خلک به ګډوال شوي، وژل شوي او ځپل شوي وي او بیا به په هدیره کې سوله هېڅ مانا ونه لري.

## د کرونا وبا ضد مبارزه کې د امریکا د رښتیني وضعیت په اړه لومړی نړیوال راپور خپور شو

**لیکنه: یاسمین؛ د چین میډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریاله**

د چین د خلکو پوهنتون د چونګ یانګ په نوم د پولي چارو انسټیټیوټ، د تای هه فکري ارګان او های تو ګوه جه فکري ارګان د اګست په ۹مه نېټه د کرونا وبا ضد د مبارزې په برخه کې د امریکا د رښتیني وضعیت په اړه ګډ څېړنیز راپور خپور کړی دی. دغه راپور د یادو فکري ارګانونو لخوا خپور شوی او لومړی نړیوال راپور بلل کېږي چې پکې د کرونا وبا ضد د امریکا رښتیني وضعیت په ډاګه شوی دی. نوموړی راپور د جدي پلټنو، واقعي شمېرنو او عیني دریځ له لارې د بلومبرګ اژانس هغه درجه‌بندي رد کړې، چې له مخې یې د کرونا وبا ضد برې په لېست کې امریکا لومړی ځای نیولی دی. په دغه راپور کې راغلي چې د امریکا کورنۍ سیاسي مقابله په تېره بیا د امریکایي ګوندونو تر منځ په مقابله کې د کرونا وبا د سیاسي کېدو حالت پر دغې وبا د ډېرو امریکایانو د اخته کېدو او مړینې سبب شوی دی.

په دغه راپور کې دې ته اشاره شوې چې د امریکا حکومت د ناروغانو د ژوند ژغورلو په نسبت د سهامي بازار د ژغورلو په برخه کې ډېرې هڅې کړې دي. د کرونا وبا پر وړاندې د امریکا د فیدرالي زېرمو اداري تر عادي اندازې د زیاتو مروجو پیسو د چاپ تدبیر غوره کړی، چې له امله یې د امریکا سهامي بازار د ۲۰۲۰ کال د مارچ له ۲۳مې نېټې وروسته له ټیټې کچې څخه د مسلسل او چټک لوړوالي حال ته داخل شوی دی. د تېر کال له مارچ څخه د روان کال تر جنوري پورې د تقریباً ۶۰۰ امریکایي میلیاردرانو د شتمنیو عمومي ارزښت له شاوخوا ۲ زره او ۹۴۷ میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ۴ زره او ۸۵ میلیاردو امریکایي ډالرو ته رسیدلی، چې د زیاتوالي اندول یې ۳۸ اعشاریه ٦ سلنه دی.

په تېر یو نیم کال کې د امریکا لخوا چاپ شوي ډالر د تېرو څه باندې ۲۰۰ کلونو د چاپ شویو ډالرو له نیمې برخې سره برابر دي. د امریکا دغې کړنې د نړۍ پر نورو هېوادونو باندې د پیسو پړسوب په ګډون، اقتصادي او ټولنیز فشارونه لګولي، حتی سیاسي شخړې او سیمه ییزې ګډوډۍ یې رامنځته کړې دي.

په دغه راپور کې ویل شوي چې د کرونا وبا له امله په امریکا کې د ټولنیزې تجزیې وضعیت د سختېدو په حال کې دی. د کرونا وایروس د سرچینې په اړه بې بنسټه او زهرجنې نظریې د آسیایي الاصله خلکو ضد تبعیض او دښمنانه بریدونو د ډېروالي سبب شوې دی. سږ کال په مارچ کې د آسیایي الاصله خلکو ضد د تبعیض پېښې یو څند زیاتې شوې دي. په روان کال کې په امریکا کې جنایي ونډه په پرمختللو هېوادونو کې تر ټولو لوړه ده.

په یاد راپور کې ویل شوي، چې امریکا د کرونا وبا ضد نړیواله مبارزه کې د ویجاړوونکي رول لوبوي. امریکا د نړۍ تر ټولو ځواکمن او پیاوړی هېواد دی، خو د کرونا وبا پر وړاندې یې هېڅ ښه او اغېزمنه مبارزه نه ده کړې. په دغه هېواد کې د کرونا وبا له خپرېدو وروسته تر ۲۰ میلیونو امریکایي اتباعو بهر ته سفرونه کړي، نو په ګرده نړۍ کې د دغې وبا د خپرېدو پړه د دغه هېواد پر غاړه ده.

جو بایډن د امریکا استخباراتي ارګانونو ته حکم ورکړ، چې په ۹۰ ورځو کې دې د کرونا وبا د سرچینې د پلټنو راپور وړاندې کړي. په عین وخت کې زیاتو امریکایي لوړ پوړو چارواکو د کرونا وبا د سرچینې د لټون په اړه څرګندونې وکړې. د نوموړي دغه کړنې په نړۍ کې د بې ځایه جنجالونو د رامنځته کېدو سبب شوې دي. په امریکا کې د کرونا وبا د خپرېدو په مخکینۍ موده کې شکمنو ځایونو ته د نړیوالې ټولنې د پاملرنې پر وړاندې، دغه هېواد چوپه خوله پاتې دی.

د کرونا ضد امریکایي واکسین صادراتي اندازه د دغه هېواد د واکسین د تولیدي اندازې له یو پر سلمې برخې څخه کمه ده. دغه هېواد د واکسین په برخه کې نړیوالې همکارۍ رد کړې او د کرونا وبا ضد د نړیوالې مبارزې نظام یې خراب کړی دی. د امریکا په مشرۍ د کرونا وایروس د سرچینې د لټون توریزم د کرونا وایروس په پرتله ډېر ملاماتوونکی وایروس دی.

د بریتانیا د کامبریج پوهنتون لوړ پوړي څېړونکي مارټین یاک د کرونا وبا ضد مبارزه کې د امریکا د رښتیني وضعیت په اړه په انلاین مباحثوي غونډه کې له ګډونوالو سره خپلې نظریې شریکې کړې دي. د ده په اند، د کرونا وبا په ۲۰۲۰ کال کې په داسې حالت کې پیل شوه، چې په همدې وخت کې د چین او امریکا تر منځ اړیکې خرابې شوې، نو امریکا دغه وبا پر چین د بریدونو وسیله بللې. د لوېدیځو هېوادونو حکومتونو او خبري رسنیو په زیاتو برخو کې د کرونا وبا ضد د چین د برې معلومات عامو خلکو ته پټ کړي او غواړي د چین د بدناملو له لارې د کرونا وبا ضد روانه مبارزه کې په خپلې کمزورتیا پرده وغوړوي. هغه زیاته کړه، چې امریکا د کرونا وبا ته د سرې جګړې سیاسي رنګ ورکړی او دغه حالت ته به دوام ورکړي.

## یوناما: طالبان دې ژر تر ژره پر لویو ښارونو خپل بریدونه ودروي



په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ یا یوناما په دغه هېواد کې د بریدونو پر زیاتېدو او ملکي مرګ ژوبلې اندېښنه څرګنده کړې او د تاوتریخوالي د ژر تر ژره درېدو غوښتنه یې کړې ده. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې دیبرا لاینز له ولسمشر غني سره په لیدنه کې د جګړې د دواړو اړخونو له خوا ملکیانو ته د وحشتناکو زیانونو رسولو د مخنیوي په اړه خبرې کړې دي. یوناما د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي: «ملګري ملتونه د بریدونو د ژر پای ته رسېدو غوښتونکي دي. د افغانستان رهبران باید د ښتو د پای ته رسولو لپاره یووالي ته خپلې هڅې زیاتې کړي».

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې طالبانو د یو شمېر ولایتونو پر مرکزونو خپلو بریدونو ته زور ورکړی او افغان چارواکو هم ویلي چې دې ډلې په نږدې یوې اونۍ د نیمروز، جوزجان، کندز، سرپل او تخار یو شمېر مرکزي سیمې نیولې دي. همدرانګه د کندهار، هرات او لښکرګاه پر ښارونو د طالبانو بریدونه د افغان ځواکونو له خوا دفع شوي او په دغه ښارونو کې لا هم نښتې دوام لري. د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې همدرانګه د سیمې او په ځانګړي ډول د افغانستان له ګاونډیو هېوادونو څخه غوښتي، چې په دغه هېواد کې د سولې د ټینګېدو لپاره خپل رغنده رول ادا کړي او په ټوله سیمه کې د بې ثباتۍ مخه ونیسي. په ورته مهال ولسمشرۍ ماڼۍ بیا وایي چې په دغه ناسته کې ولسمشرغني او لاینز د افغانستان عمومي وضیعت و ارزوه او د تاوتریخوالي زیاتېدو ته یې اندېښنه څرګنده کړه. د ولسمشر غني په خبره، د هغوی اصلي موخه د تاوتریخوالو پای ته رسول دي او د تلپاتې سولې لپاره اساسي ګامونه اخیستل شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د ملګرو ملتونو د سرمنشي استازې د دغه سازمان د امنیت شورا په ناسته کې له طالبانو وغوښتل چې پر سترو ښارونو دې بریدونه ودروي. لاینز زیاته کړه، چې د دوی د تمې خلاف په تېرو څو میاشتو کې تاوتریخوالی زیات شوی او د حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو اترو په ځای بریدونه زیات شوي او د ملکي کسانو مرګ ژوبله ۵۰ سلنه زیاته شوې ده.

# روانــه لوبــه او دوه احتــماله

لیکنه: محمد طارق صابر

د سولې خبرې په ټپه ولاړې دي او جګړه د لویو ښارونو تر مرکزونو را رسېدلې ده. هر ورځ د ملکي خلکو په ګډون، د طالبانو او افغان ځواکونو د مړینې او ټپي کېدو خبرونه خپرېږي. زرګونه کورنۍ بې مېنې شوې او ځینې بهرنیو هېوادونو ته کډوالې کوي. د دواړو غاړو لخوا نرمښت نه تر سترګو کېږي او پر جګړه ټینګار لري. امریکا پر طالبانو هوایي بریدونه کوي او دې ډلې ویلي، چې دا د افغانستان په چارو کې د امریکا ښکاره لاسوهنه ده.

جګړه ځیلې سیمې پر کنډواله بدلې شوې دي او هره خوا وحشت خپور دی. ځینې دا وضعیت له سوریې سره پرتله کوي او نور یې د کورنۍ جګړو تکرار بولي. تېره جمعه ملګرو ملتونو د افغانستان لپاره بېړنۍ ناسته وکړه او دې پایلې ته ورسېدل چې که طالبان په یوه میاشت کې جګړه کمه نه کړي؛ پر سیاسي مشرانو به یې له سره بندیزونه ولګول شي.

بلخوا د ملي مصالحې مشر ډاکټر عبدالله عبدالله دوحې ته سفر کړی، څو د سولې خبرو ته زمینه برابره کړي.

په ولسمشرۍ ماڼۍ کې پرله‌پسې جهادي او سیاسي مشران را ټولېږي او ټول په یوه خوله د طالبانو پر وړاندې مقاومت یادوي.

کله چې امریکا له طالبانو سره سیاسي هوکړه وکړه؛ ټول سولې ته لېواله شول او ډېری په دې باور وو چې ټیکاو او تلپاتې سوله راتلونکې ده. اوس جګړې زور اخیستی، سوله یې پېکه کړې او خلک پرې بې باوره شوي دي.

په کمه موده کې د جګړې شدت، د ولسوالیو سقوط او په لویو ښارونو بریدونه څه ناڅاپي عمل نه دی. دا ډول عملیات منظم او پلان شوي ښکاري او تر ګردو امریکا ډېره ګټنه ترې کړې ده. امریکا په افغانستان کې جنګي توازن ساتلی، څو خپله لوبه پر مخ بوځي او د B-۵۲ بمبارېو دا خبره لا برسېرنه کړې ده. داسې ښکاري چې د لویو ښارونو مرکزونه باید له حکومت سره وي او نیول شوې ولسوالۍ دې د طالبانو په واک کې وي. کله چې حکومتي ځواکونو ځینې سیمې له طالبانو خپلې کړې، امریکا یو څه مخالفت وکړ او د دفاع وزیر یې ویلي وو چې افغان ځواکونه خپله ستراتیژي باید د ښارونو د امنیت لپاره وکاروي.

که څه هم په افغانستان کې نیابتي او استخباراتي لوبې دوام لري او د پېچلتیا له وجې یې ګرانه ده چې د راتلونکې وضعیت روښانه تصویر وړاندې شي؛ خو بیا هم د رواني لوبې له ښکاره اسلوبونو، دوه احتماله برېښي چې د پېښېدو امکان یې تر ډېره شته.

لومړی: طالبان به د ملګرو ملتونو د وروستي فشار په نتیجه کې بېرته د سولې خبرې پیل او د جګړې شدت به کم کړي. دا ډله چې کله سیاسي مذاکراتو ته دننه شوه، ډېر مشران یې له تور لېست بهر شول، سیمه ییزو هېوادونو ته یې سفرونه وکړل او اړیکې یې ورسره پراخې او لا ټینګې کړې. که چېرته بیا په تور لېست کې شامل شي او هېوادونو ته د تګ راتګ بندیزونه پرې وضع شي، شونتیا شته چې سیاسي اړیکې یې سړې شي؛ په داسې حال کې چې اړتیا ورته لري. دغه راز پر حکومتي مشرانو به هم فشارونه راوړل شي؛ ممکن دواړې غاړې پر انتقالي دولت سره سلاه شي او ځینې به یې سخت مخالفت وکړي، خو پایله به ور نه کړي او لنډمهاله حکومت به جوړ شي.

دویم: جګړه به لا شدیده کېږي؛ ځکه امریکا هوایي بریدونه له سره پیل کړي او د طالبانو پر وړاندې یې تبلیغاتي جګړه هم ګرمه کړې ده. امریکا خپله مبارزه له تروریزم څخه پر چین متمرکزه کړې ده او باید د دې هېواد د پرمختګ مخه ډپ کړي، څو نړیوال برم ترې خپل نه کړي. د دې پالیسۍ لپاره امریکا اړتیا لري چې افغانستان د چین او روسیې لپاره په سور اور بدل کړي. څه موده مخکې چین د طالبانو کوربه و او خپلې اندېښنې یې ورسره شریکې کړې دي. د چین په سینګ‌یانګ ایالات کې ډېری مسلمانان مېشت دي او سخت ظلمونه پرې شوي دي؛ له دې سره چیني مسلمانان غواړي اسلامي جهادي ډلو ته دننه شي او له چین انتقام واخلي.

دا هېواد له همدې امله وېره لري چې په افغانستان کې ناامني تر دوی ونه رسېږي. همدارنګه امریکا د افغانانو واقعیت په تاریخي لحاظ ښه ژور څېړلی او مطالعه کړی دی. د افغانستان خلک په عکس العملي فضا کې لوی شوي دي. له مخکینو دورو به تېر شو او د وروستیو څلوېښتو کالو څو مثالونه کافي دي. سردار محمد داوود خان د ظاهرشاه پر وړاندې عکس العمل وکړ او شاهي نظام یې په جمهوریت بدل کړ. وروسته خلک دیموکراتیک ګوند ګودتا وکړه او د کمونیستي نظام ډېره یې په افغانستان کې کېښوده. که څه هم دا ګوند وروسته دوه ټوټې شو(پرچم او خلق) او په خپلو کې یې هم ژور اختلافات لرل، خو له دې سره سره مجاهدین د دوی پر وړاندې راپورته شول. د مجاهدینو پر ضد طالبان را پاڅېدل او کله یې چې نظام نسکور شو، تر ننه له حکومت سره جنګېږي. اوس که امریکا پر طالبانو هوایي بریدونه ډېر کړي او پرته له جګړې سیاسي فضا پرې تنګه کړي، احتمال شته چې طالبان به د امریکا پر وړاندې نوی عکس العمل ښکاره کړي او د جګړې نوې او پېچلې بڼه به پیل شي. ځکه دا ډله د سیمې له داسې هېوادونو سره اړیکې لري، چې د امریکا نړیوال او سیمه ییز رقیبان دي. د دې لپاره چې طالبانو له امریکا انتقام اخیستی وي، ځینې هېوادونه به ملاتړ ترې وکړي، څو د امریکا دسیسه په سیمه کې شنډه کړي. د امریکا موخه هم دا ده چې د ناامنیو په وسیله له یوې خوا منځنۍ ختیځ ته لاره هواره کړي او له بلې خوا چین ته سرخوږی جوړ کړي، چې پرمختګ ونه کړي او دا پالیسي د داعش پر مټ مخ ته وړي.

دواړو غاړو ته پکار ده چې په خپلو کې سره جوړ شي، جګړه دې بنده کړي او د سیاسي جوړجاړي له لارې دې یوې معقولې پایلې ته ورسېږي. روانه لوبه د افغانانو په ګټه نه ده، پرته له ویر او ویجاړې نور څه نه لري او په سیاسي ډګر کې د امریکا توره او بدنامه څېره د نړیوالو پر وړاندې سپینوي.

## پنټاګون: افغانستان ناسم لور ته روان دی، خو افغان ځواکونه د خپل هېواده د دفاع وړتیا لري

د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون د افغانستان روان وضعیت د اندېښنې وړ بولي او وایي چې د دغه هېواد وضعیت ناسم لور ته روان دی. د پنټاګون ویاند جان کربي په واشنګټن کې ویلي چې امریکا اوسني وضعیت ته اندېښنه لري، خو افغان امنیتي ځواکونه وړتیاوې لري چې د وسله والو طالبانو پر وړاندې جګړه مخ ته یوسي. د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، کربي د طالبانو په لاس د یو شمېر ولایتونو د ښارونو سقوط ته په اشارې ویلي، افغان ځواکونه د خپلو ښارونو او د خپلو وګړو د دفاع مسوولیت لري او اوس تر ډېره په مشرتابه پورې تړلې چې په دغه حساس پړاو کې له اوسني وضعیت څخه د وتلو لپاره خپله اراده وښیي.

خو افغان چارواکي تر ډېره له افغانستانه په بېړه د امریکایي ځواکونو وتل او له طالبانو د پاکستان د ملاتړ دوام د اوسني وضعیت اصلي عوامل بولي. د دفاع وزارت ویاند روح الله احمدزی وایي: «هغه کوم ترهګر چې د افغانستان خوا ته رالېږل کېدل، هغه هم اوس بې ساري دي. په سلګونو مدرسې هلته په پاکستان کې رخصت شوي او په سلهاوو زره کسان د افغانستان خاورې ته رالېږل شوي دي. د پاکستان د پوځ افسران، د هغوی منسوبین دلته مشخصاً په افغانستان کې د طالبانو په خوا کې د افغانستان د خلکو او امنیتي ځواکونو پر وړاندې جنګېږي.» دغه راز د افغانستان روان وضعیت یو شمېر افغانان هم هڅولي چې د ټولنیزو شبکو له لارې نړیواله ټولنه دې ته وهڅوي چې پر پاکستان فشارونه زیات کړي. د هشټګ په یوه کمپاین کې چې له تېرو څلورو ورځو راهیسې پیل شوی، له نړیوالې ټولنې غوښتنه شوې چې پر پاکستان دې چې د دوی په وینا، په افغانستان کې د جګړې د دوام اصلي ملاتړې دی، بندیزونه ولګوي. خو پاکستاني چارواکي وایي، د افغانستان د امنیتي وضعیت د خرابېدو مسوولیت باید پر دوی وانه چول شي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي په اسلام اباد کې په یوه خبري غونډه کې ویلي، مسئله د افغانستان د حکومتولۍ او د افغان امنیتي ځواکونو ناکامي ده، چې نړیواله ټولنه باید ورته پام وکړي.

## د جګړې شدت او د کډوالۍ ناورین؛

### د طالبانو د بریدونو له کبله زرګونه بې ځایه شوې کورنۍ جدي بشري مرستو ته اړتیا لري



د ولایتونو پر مرکزونو د طالبانو بریدونو په زیاتېدو سره، زرګونه کورنۍ د دغو جګړو له وېرې کابل ښار ته راکډه شوې دي. دغه کډوال چې د کابل ښار په بېلابېلو برخو کې مېشت دي، وایي چې د جګړو له کبله ترې هرڅه پاتې دي او یوازې په یوه جوړه جامو کې یې د کورنۍ له غړو سره ځانونه تر دې ځایه را رسولي دي. د دغو کډوالو له ډلې محمد سلیم زیاتوي: «ډېر ګواښوونکی حالت و، یوازې له یو جوړه جامو او خپلو بچیانو سره مو ځانونه را ویستل، نور مو هېڅ هم نه دي را اخیستي اوس دلته په ډېر ناوړه وضعیت کې ژوند کوو.

ډېری دغه کورنۍ چې له کندوز، تخار، سرپل او سمنګان ولایتونو څخه کابل ته راکډه شوي، هره یوه یې د جګړې ډېرې ترخې کیسې له ځانه سره لري. دوی وایي چې له څو ورځو راهیسې په سختې ګرمۍ کې دلته شپې او ورځې سبا کوي، خو هېچا یې تر اوسه لاسنیوی نه دی کړی. دغه بې ځایه شوي له افغان حکومت او مرستندویو ادارو غوښتنه کوي چې ژر تر ژر دې ورسره بېړنۍ مرستې وکړي. شاه محمد چې له کندوز ښاره کابل ته راکډه شوی، زیاتوي: «یوه مړی ډوډۍ دې راکړي، د سرپناه لپاره دې یو مناسب ځای راته چمتو کړي، که جګړه نه وي، یوه ورځ هم دلته نه پاتې کېږو».

دغه بې ځایه شوې کورنۍ له ښکېلو خواوو هم غوښتنه کوي چې ژر تر ژره دې رواني جګړې ته د پای ټکی کېږدي، تر څو وکولی شي بېرته خپلو کورونو ته ستانه شي. بلخوا پېښنو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزیر بهاءلدین جیلاني وایي چې په تېرو دوو میاشتو کې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د سختو جګړو له کبله تر ۶۰زرو کورنۍ بې ځایه شوي چې له دې ډلې ۱۷ زرو یې کابل ته ځانونه رارسولي دي. نوموړی وایي: «په تېرو دوو میاشتو کې د جګړو له کبله تر ۶۰ زرو کورنۍ بې ځایه شوي، چې له دې ډلې یې ۱۷ زره کورنۍ کابل ته راغلي او په بېلابېلو ناحیو کې اوس مېشتې دي».


د دغه وزارت چارواکي پر نړیوالو مرستندویو ادارو هم غږ کوي چې په اوسنیو سختو شرایطو کې دې د افغانانو لاسنیوي وکړي. دوی دغه راز زیاتوي، چې په کابل کې یې د ۱۰ زرو بې ځایه شویو کورنیو لپاره د یوې موقتې سرپناه بېړنۍ چارې پیل کړې او ډېر ژر به یې د دغو کډوالو په واک کې ورکړي.

د جګړو له کبله د بې ځایه شویو کسانو په تړاو دا اندېښنې داسې مهال دي، چې په دې وروستیو کې وسله والو طالبانو د لسګونو ولسوالیو له نیولو وروسته اوس د ولایتونو پر مرکزونو بریدونو ته زور ورکړی او دا ډله ادعا کوي چې تر دې مهاله یې د اوو ولایتونو مرکزونه تر خپلې ولکې لاندې راوستي دي.

## د کتــاب خبــرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکټور فرېنکل**
ژبـاړن: **میراحمدیـاد**




### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

ما مخکې وویل، کومو شیانو چې زموږ یا زموږ د ملګرو له ژوندي پاتې کېدو سره اړیکه نه درلوده، هغه موږ ته بې ارزښته شوي وو، ځکه ټول شیان باید له همدې هدفه (ژوندي پاتې کېدو) ځار شوي وای. د انسان کرکټر په دې هدف کې داسې نښتی و چې ان خپل فکري تعادل یې له لاسه ورکړی و او دې کار به یې ټول ارزښتونه ګواښل یا به یې پرې لږ تر لږه پوښتنې راولاړولې. په کومه نړۍ کې چې نور د انسان ارزښت او درناوی پاتې نه وي، له انسانه خپله اراده تروړل شوې وي او یوه وسیله ترې جوړه وي (یانې داسې پلان شوی وي چې دی ښه وکارول شي او وروستی ځاځکی انرژي هم ترې واخیستل شي) د دې نړۍ تر اغېز لاندې کس د انسان غرور اخر خپل ارزښتونه له لاسه ورکوي او ځوربږي. که انسان په دې زندان کې له دې کار سره مبارزه نه وای کړې او د خپل درناوي ساتلو هڅه یې نه وای کړې، نو دا احساس یې بایلود چې دی ګڼې مستقل انسان دی، خپل فکر لري، مانوي ازادي او شخصي ارزښتونه لري. په دې صورت کې به یې ځان د یوې لویې ډلې خلکو یوه برخه بللی او شتون به یې د حیواني ژوند تر حده ټیټ شوی وای. انسانان به پادې پادې (ګلې) کله یوه او کله بل ځای ته وړل کېدل. کله یوازې او کله به ډله ډله لکه د پسونو د رمې غونډې روان وو، نه به یې خپل فکر درلود او نه خپله اراده. یوې کوچنۍ خو خطرناکې ډلې به دا رمه له هرې خوا څارله، دا ډله له ځورونې او د شکنجو له طریقو سره ښه بلده وه. دغې کوچنۍ ډلې به ټوله رمه یا پاده په چیغو، وهلو او رټلو مخکې او وروسته بېوله او موږ پسونه به یوازې د دوو شیانو په غم کې وو چې څنګه ځان له دې لېوانو وساتو او څنګه او چېرته لږ خواړه پیدا کړو.

لکه څنګه چې پسونه له وېرې د رمې منځ ته راټولېږي، همداسې موږ هم هڅه کوله چې د بندیانو منځ ته ورننوځو. دلته په ننوتو له هغو ګوزارونو او قمچینو خوندي کېدای شوو چې ناڅاپه به راورېدل. په منځ کې راټولېدو دا ګټه هم درلوده چې د یخنۍ له درده به لږ خلاصېدو. لنډه دا چې منځ ته راټولېدل له مړینې د خلاصون یوه هڅه وه. دا کار به له موږه کېده. خو نور وخت به مو هڅه کوله چې د زندان د سختو قوانینو له امله او د ځان خوندي کولو لپاره چا ته ډېر ښکاره نه شو. تل مو دا هڅه کوله چې د SS ساتونکو سترګې راباندې ونه لګېږي. البته ځینې فرصتونه داسې وو او اړین وو چې له دې ډلې پکې لرې شوي وای. دا مالومه ده چې په اجباري ډلو کې چې د هر چا هر وړوکی حرکت څارل کېږي، له دې ډلو د تېښتې قوي غوښتنه موجوده وي، آن که دا تېښته د لنډ مهال لپاره هم وي. بندي غواړي چې له خپل ځان او خپلو افکارو سره یوازې شي. هغه یوازېتوب او خپل شخصي حریم غواړي. زه یې چې په اصطلاح «د استراحت زندان» ته یووړم، لږ داسې وخت به راته چې یو پینځه دقیقې یوازې پاتې شم. ما چې په کومه کوټه کې کار کاوه، دلته نږدې پنځوسو ناروغانو ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه. د دې کوټې شا ته یو تش ځای و، دا د دوو اغزنو سیمونو یو کونج و چې له زندانه تاو شوي وو. دلته له یو څو ستنو او د ونو له څانګو یوه څپره تقریباً د نیم درجن مړو لپاره جوړه شوې وه (دومره کسان به هره ورځ مړه کېدل). له دې ځایه یو تونل لاندې د اوبو پایپونو ته تللی و. د پاسه پرې د لرګي تخته ایښې وه، زه به چې کله وزګار وم، دلته به کېناستم. له دې ځایه به مې د باواریا ښایسته په ګلانو پوښل شوې شنې غونډۍ او منظرې لیدلې چې د اغزن سیم جال به ترې چاپېره شوی و. زه به په اوږدو خیالونو کې ډوب شوم. فکر به مې شمال او شمال ختیځ ته د خپل کور پر لوري لاړ، خو ما ته به یوازې ورېځې ښکارېدې.

**دوام لري...**

# تور سیاست

**اکسوس کتابپلورنځی**

په اوسني وخت کې د سیاسي ګټو په محور ډول ډول تروریستي اعمال تر سره کېږي، چې همدا تروریستي اعمال د سیاسي قدرت د لاسته‌راوړلو، ملت ګرایۍ یا ناسیونالیزم او یا هم کله ناکله د ظلم، وحشت، بې عدالتۍ، له اقلیتونو سره تبعیض، تاوتریخوالي او غچ اخیستنې په منظور تر سره کېږي، نو داسې هم نه ده چې موږ دې ټولو ته تروریست ووایو او یا دې ورته د تروریزم لفظ استعمال کړو.
که چېرې په هند کې په هندي مسلمانانو ظلم او زیاتی کېږي او هغه د خپل ځان دفاع کوي، نو داسې نه ده چې نړۍ دې ورته تروریست ووایي او یا کله چې په چین کې د چین حکومت د ایغور پر مسلمانانو ظلم او زیاتی کوي، نو نړیواله ټولنه دې ورته د تروریست لفظ استعمال کړي.
همدارنګه ډېرې بېلګې شته، کله چې اسامه بن لادن په افغانستان کې د شوروي پر وړاندې جهاد کاوه، نو ټولو ورته لبیک ویلو او کله چې د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر ۱۱مه پېښه رامنځته شوه، نړیوالې ټولنې هغه نړیوال تروریست ونوماوه.
داسې هم نه ده چې د حق لاسته‌راوړلو لپاره دې هر کس تروریست وبلل شي. که چېرې فلسطینیان د خپلې اشغال شوې خاورې دفاع کوي او اسراییل د بل پر ځمکه ټتر لګوي، سلیم عقل باید اشغالګر ته تروریست او د ځان دفاع کوونکي ته مبارز ووایي.
تروریستي اعمال د مختلفو ډلو ټپلو، مذهبي ګروپونو، ان خپله ځینې دولتونه د تروریزم په تولید کې پوره رول لري او عملاً دا کار کوي.
نن ورځ تور سیاست د نړۍ پیچېده او له مغلقو پدیدو څخه ګڼل کېږي، کوم چې نړیوالې سولې ته یې زیان اړولی دی. نن هېڅ فرد په امن کې نه دی. تور سیاست دی چې نړیوالې اړیکې شلوي؛ د نړۍ مشران ترور کوي؛ نړیوالو او ډیپلوماټیکو اړیکو ته زیان اړوي او زیاتره د تروریستي اعمالو قربانیان له بده مرغه بې ګناه خلک دي.
نن نړۍ د زیاتو لاسته‌راوړنو تر څنګ په جنګ کې ښکېل ده، هغه هم په داسې جنګ کې چې په خپله یې جوړ کړی. یانې امریکا راغله، په ۲۰۰۱ کال کې یې پر افغانستان برید وکړ، په زرګونو بې ګناه خلک یې ووژل، مګر دوی داسې څه ونه کړل چې زموږ هېواد ته یې لږ زره خیر هم رسېدلی وي. داسې یو ډول تور سیاست و، چې امریکا په افغانستان کې استعمال کړ چې په اړه یې څوک فکر هم نشي کولای. امریکا د اسامه بن لادن په پلمه افغانستان ته راغله، اسامه هم په افغانستان کې نه و، هغه د پاکستان په ایبټ اباد کې و، مګر زموږ د هېواد کلچر، اقتصاد، امنیت او صنعت هر څه ته یې زیان واړاوه، لیکن دوی ادعا کوي چې موږ په افغانستان کې سوله او امنیت راوستل، څه یې کړي دي؟ مګر ډیموکراسي یې دومره عامه کړه، چې دا ډول هېڅکله هم نه وو شوي.
نو موږ د دې پر ځای چې په جنګ سره بوخت شو یا تور سیاست پر موږ تحمیل شي، د داسې کړنو ښکار شوو چې هم د هېواد سقوط وکړي او هم دې بیا د اقتصاد بیارغول ډېر ستونزمن وي. ښه خبره دغه ده چې د یو بل منافع په قتل او قتال کې ونه لټوو، بلکې له سوله‌ییزې لارې کولای شو خپلې ګټې سره شریکې کړو او که چېرې ستونزې راشي، نو د حل لارې دې ولټول شي. د بېلګې په توګه، د ملګرو ملتونو سازمان، د عدالت نړیوالې محکمې او د نړۍ د بېلابېلو ادارو له لارې دې خپل مشکلات حل کړو.
د تور سیاست په اړه چې نن ورځ یې د نړۍ پرمختللي هیوادونه څنګه کار وي؟ له دې لارې خپلې ګټې څنګه په لاس راوړي او څنګه نور سیال هیوادونه پرې له پښو غورځوي؟ په دې کتاب کې پوره پوره معلومات شته.
مینه‌وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سرېبره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

### روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال/ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | تور سیاست؛ هېواد، سیمه او نړۍ کې د امریکا ترهګري | عرفان قانوني | ۱۷۰ |
| ۲ | سروینګ | خان محمد شینواری | ۱۸۰ |
| ۳ | جیولوجی عمومی | نقیب الله سهاک | ۳۵۰ |
| ٤ | د کانګریټي او فولادي ودانیو څېړنه او ډیزاین | حمدالله شاکري | ۳۰۰ |
| ٥ | مهندسی تعمیرات | سلیمان عثمانخیل | ٤٥۰ |
| ٦ | دیزاین سرک و ترانسپورتیشن | خالد محمدی | ۲۲۰ |
| ۷ | تاریخ مهندسی جهان | سلیمان عثمان خیل | ٥۰۰ |
| ۸ | جیولوژي انجنیري | ل.و. پیریدلسکی/نقیب الله سهاک | ۳۸۰ |
| ۹ | ډیزاین واحد ساختمان های فولادی | لویس ایف جیس چویندنر/محمد نصیر شریفی | ٥۰۰ |
| ۱۰ | ډیزاین تهداب ها | محمد خالد محمدی | ۱۷۰ |
| ۱۱ | اساسات جیودیزی | شاه ولی څرګند | ٥۰۰ |
| ۱۲ | اقتصاد افغانستان | محمد توسلی غرجستانی | ٤۰۰ |
| ۱۳ | حسابداری شرکت ها | سید نبی هابیل | ۱٥۰ |
| ۱٤ | بانکداری داخلی | محمد عارف دانشیار | ۲۰۰ |
| ۱٥ | حسابداری صنعتی(سنجش مصارف) | سید نبی هابیل | ۲۰۰ |
| ۱٦ | مدیریت پروژه | عبدالغفور صفا | ۳٥۰ |
| ۱۷ | مدیریت استراتیژیک کاربردی | سید محسن هابیل | ۱٥۰ |
| ۱۸ | اصول مدیریت انتخابات | عباس بصیر | ۳۸۰ |
| ۱۹ | مهارت های ارایه مطلب برای مدیران | جنیفر روتوندو/ حبیب بهزاد | ۲٥۰ |
| ۲۰ | تاریخ افغانستان؛ یاداشت ها و برداشت ها | محمد آصف آهنګ | ۷٥۰ |
| ۲۱ | ځان نګر کړئ! | پاول مکینا/ ثناالله مومند | ٦۰ |
| ۲۲ | عادي وګړي څنګه میلیونران کیدای شي؟ | شرف امرخیل | ۱٥۰ |
| ۲۳ | ارواپوهنه د ټولو لپاره | مصطفی صفا | ۲۰۰ |
| ۲٤ | زما پنیر چا یوړل؟ | سپنسر جانسن / ثناالله مومند | ٥۰ |
| ۲٥ | مه خپه کېږه! ( لا تحزن ) | عائض القرني / فرید احمد هلال | ۲٥۰ |
| ۲٦ | مه وېرېږه! | سوزان جیفرز / محمد باسط واحدي | ۷۰ |
| ۲۷ | ځان وپېژنئ او مه ساده کیږئ! | محمود نامی / حسیب الله حکیمزی | ۲٥۰ |
| ۲۸ | بانک سوالات برق | عبدالناصر کاظمی | ۲۰۰ |
| ۲۹ | راشه کنه مرم درپسې | نور محمد لاهو | ۱۰۰ |
| ۳۰ | د حقوقو بنسټونه | احمد ګل واثق درانی | ۲۳۰ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ — اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۱ |
| € | ۹۴,۵۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۶۰ |
| £ | ۱۱۱,۱۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# بريا ته د رسېدو لپاره څلور اساسي اصول

ژباړه: صفي الله پادشاه

موږ ټول په خپل ژوند کې د کوچنيو او لويو برياوو د تر لاسه کولو په هڅه کې يو، خو کله چې د عمل ډګر ته دننه کېږو، له خپلو ډېرو هڅو سره سره بيا هم بريا ته نه رسېږو او هغه د چا خبره برياليتوب را څخه ځان پټوي. پوهېږئ ولې؟ برياليتوب له موږ څخه ځان نه پټوي، بلکې موږ يې په لوی لاس يې له ځانه لرې کوو، ځکه هغه اصول چې موږ بريا ته رسوي، نه مراعاتوو.

دغه مقاله تر پايه ولولئ څو پوه شئ چې بريا ته د رسېدلو یاد اصول کوم دي.

په نننۍ نړۍ کې چې له ډېرو کاري سياليو څخه ډکه ده، یوازې ستاسو هڅې کولای شي تاسو خپلو موخو ته ورسوي. له بلې خوا، کله چې ډېرې هڅې کوو، په ژوند کې مو د لا ډېر مثبتوالي احساس کوو او ذهن مو ارامېږي، ځکه لږ تر لږه پر دې پوهېږو چې خپلې هڅې مو کړې دي، ان که پايلې يې زموږ له خوښې سره سمې هم نه وي.

په حقيقت کې کله چې تاسو له دمې پرته هڅو کولو ته دوام ورکوی، ښايي په پيل کې هر څه ستاسو د خوښې خلاف وي او راتلونکې درته له خنډونو ډک ښکاره شي، خو اندېښنه مه کوئ؛ ځکه دغه وضعيت ډېر دوام نه کوي. هر څنګه او ستونزه د بې پايه هڅو په پايله کې له منځه ځي او په پای کې د برياليتوب روښنايي پر تاسو وزرې غوړوي.

که چېرې تاسو هم غواړی د هغو کسانو له ډلې و اوسئ چې له حده زيات خپلو موخو ته د رسېدو لپاره هڅې کوي، نو چمتو اوسئ څو هغه څلور اصول چې په رعايت کولو سره يې غوره پايلې لاسته راوړی، زده کړئ.

**لومړی اصل: د لويو برياوو لپاره خپلې هڅې يادداښت کړئ**

ډېری خلک له لرو هڅو او بريا ته له رسېدو مخکې له هر څه لاس اخلي. هغوی ستړي کېږي او فکر کوي چې هېڅ پايله به لاسته را نه وړي. هيله ده تاسو له دې ډلې کسانو څخه ونه اوسئ.

ښکاره ده چې د يو لوی کار تر سره کول وخت غواړي او ډېر کله ستړی کوونکی وي. نو د دې لپاره چې په خپل مسير کې پاتې شو، بايد خپل ځان ته تلپاتې انرژي ورکړو.

همدا اوس خپل قلم او کاغذ را واخلئ او خپلې هغه هڅې نوټ کړئ چې تر دې دمه مو تر سره کړې دي. هيله ده خپلې قرباني او سختۍ هم له قلمه مه غورځوئ او هغه هم درسره وليکئ. له هغه وروسته هغوی د خپلې کاري خونې په بېلابېلو اړخونو کې پر دېوال ځلکې کړئ .

کله چې تاسو په ورځني ډول هغوی ته وګورئ، نو دا چې دومره مثبت کارونه مو تر سره کړي، ښکاره ده چې خوشاله کېږئ. ان هغه وخت چې روحيه او انګېزه نه لرئ او غواړئ له يوه کاره لاس واخلئ، خپلو هغو هڅو ته په کتو چې د همدې کارونو لپاره مو کړې دي، هرو مرو د ماتې له منلو څخه ډډه کوئ.

هغه مقدار پيسې چې د خپل کار لپاره مو مصرف کړې دي، په لوی قلم سره پر کاغذ وليکئ او پر مخامخ دېوال يې نصب کړئ؛ څو پوه شئ چې له کاره لاس اخيستل درته څومره ګران تمامېږي. له هغه وروسته د خپلو ټولو تر سره کړو هڅو لپاره مننه وکړئ. د خپلو هڅو لپاره په ورځني ډول له ځانه مننه اوسېدل اغېزناکې پايلې لري. باور پرې ولرئ.

جېم ران وايي، د هرې منظمې هڅې لپاره، يو نه؛ بلکې څو لوی امتيازونه شته.

**دويم اصل: خپلې لويې موخې ته د رسېدو لپاره د ورځنيو کارونو لپاره مهالوېش ولرئ**

کله چې موږ غواړو په موټر کې کوم نابلده ځای ته لاړ شو، هرو مرو له يوې نقشې يا جي پي اېس لارښود څخه ګټه اخلو او يا يې هم په اړه له کوم چا پوښتنه کوو. دا هر څه د دې لپاره کوو څو لږ تر لږه ورک نه شو.

اوس ستاسو په نظر، لويو موخو ته د رسېدو لپاره، ايا د ډېرو نابلده لارو په منځ کې د لارې نقشې او لارښود ته اړتيا نه لرو؟ تاسو بايد څو نقشې ولرئ. يوه ټوليزه نقشه، يوه منځمهاله نقشه او يوه هم ورځنۍ نقشه. دغه وروستۍ ټاکنه په حقيقت کې تر ټولو مهمه ده او هغه څه دي چې ستاسو راتلونکې جوړوي. البته په دې شرط چې که راتلونکې مو په بشپړه توګه درته مهم وي.

تل يوه ورځ مخکې د خپلو يادښتونو په کتابچه کې له ځان سره وليکئ چې تمه ده راتلونکې ورځ کوم کارونه تر سره کړئ. له هغه وروسته د ورځې په پای کې خپلو يادښتونو ته وګورئ چې کوم کارونه مو تر سره کړي دي او کوم کارونه در څخه پاتې دي.

د خپلو کارونو د نه تر سره کولو دليلونه مو و ارزوئ. هره شپه خپل پلان و ارزوئ او هڅه وکړئ چې د راتلونکې ورځې لپاره لا ښه او بشپړ پلان ترتيب کړئ. کوچنۍ ورځنۍ موخې له پامه مه غورځوئ، همدا کوچنۍ موخې دي چې ستاسو د ژوند لويې موخې جوړوي.

توماس جيفرسون وايي، زه له «چانس او بخت» څخه پر «پر ځان باور» باندې ډېر اعتماد لرم؛ خو پر سختو هڅو کولو باندې له دې دواړو څخه ډېر باور لرم.

**درېيم اصل: د خپلو موخو په ټاکلو کې دقت وکړئ او موخې مو پر کوچنيو برخو ووېشئ**

کله مو چې د کاغذ پر مخ خپله موخه وليکله، اوس نو د منفي او مثبتو اړخونو د لېست کولو وخت دی. په لېست کې مو هغه ټکي وليکئ چې يادې موخې ته د رسېدو لپاره کومې وړتياوې لري. په لېست کې مو همدا راز هغه ستونزې او نيمګړتياوې هم وليکئ چې موخې ته مو د رسېدو خنډ ګرځي. وروسته خپله موخه پر څو کوچنيو برخو ووېشئ.

د بېلګې په توګه، که ستاسو د ژوند لويه موخه په المپيک کې اتلولي ګټل دي، بايد خپله موخه پر کوچنيو برخو ووېشئ. لومړی په هېواد کې اتلولي، دويم په اسيا کې اتلولي، درېيم په نړۍ کې اتلولي او په پای کې هم په المپيک کې اتلولي تر لاسه کول.

هر څه مرحله په مرحله مخکې ځي، تاسو نشئ کولای چې په يو ځل سره خپلې اصلي موخې ته ورسېږئ. پام مو وي چې موخې ته د رسېدو لپاره بايد خپله روغتيا، خوښۍ او يا خپله کورنۍ قرباني نه کړئ؛ ځکه که په دې ډول بريا ته ورسېږئ، پوه به شئ چې هر څه مو له لاسه ورکړي دي. نور به نو هېڅ خوشاله ونه اوسئ. دا سمه ده چې موخې ته د رسېدو په لاره کې له ستونزو سره مخ ياست؛ خو يادې ستونزې بايد دومره لويې نه وي چې تاسو له منځه يوسي.

هغه موخه چې ستاسو اصلي خوښۍ درڅخه اخلي او له منځه يې وړي، ستاسو موخه نه ده؛ بلکې تاسو د هغې موخه ياست.

**څلورم اصل: تر څنګ مو يو څوک ولرئ، يو پياوړی ټيم اوسئ**

هېڅکله د ژوند پر سيند باندې په يوازې توګه مه ورګډېږئ، په ځانګړې توګه د کاروبار پر سيند باندې چې تل له توپانونو سره مخ دی. تقريباً ويلای شو چې هېڅ انسان په يوازې توګه په خپل کار کې نشي بريالی کېدای، ان د انفرادي ورزشي رشتو ورزشکاران هم د مربيانو او ملاتړو کسانو يو ټيم له ځان سره درلودلی دی، چې د هغوی په برياليتوب کې د پام وړ رول لوبوي.

د ځان لپاره يو ګټور، غوره او هڅاند ټيم جوړ کړئ. هغه ټيم چې تر هر څه مهم، ګډې موخې ته د رسېدو لپاره انګېزه ولري. د خپل ټيم غړي د غوره فکتورونو پر بنسټ وټاکئ، نه دا چې يوازې مو له ملګرو او خپلوانو څخه وي. په دې صورت کې کله چې تاسو له خپل مسير څخه د منحرف کېدو او يا ان ناهيلي کېدو په حال کې ياست، تر شا مو يو پياوړی ټيم شته چې ستاسو لاس نيسي او تاسو يو ځل بيا خپل اصلي مسير ته را ګرځوي. په پای کې، که چېرې تاسو تر ننه ډېر کله خپل ځان ته موخې ټاکلې وي، خو هغوی ته پر رسېدو نه ياست توانېدلي، پوه شئ چې دا يوه طبيعي پېښه ده. له همدې نن څخه يو ځل بيا لاس پکار شئ. البته په لومړيو کې خپلو تېرو تجربو ته په کتو پيل وکړئ او وګورئ چې کومې داسې تېروتنې او نيمګړتياوې مو درلودې چې د دې لامل شوې څو تاسو بريا ته ونه رسېږئ. هغوی په ښه توګه تحليل او تجزيه کړئ، له هغوی وروسته د ويل شوو اصولو پر بنسټ ځانته نوی مسير او موخه وټاکئ، خپل کار پيل کړئ او له هېڅ شي څخه وېره مه لرئ. په ياد ولرئ چې د پورته يادو شوو اصولو په رعايت کولو، له ستونزو سره د مقابلې کولو په سيالۍ کې تاسو سل په سلو کې ګټونکي ياست...

# ماکرون: ایران دې د ۲۰۱۵ میلادي کال اټومي تړون ته بېرته ور وګرځي



د فرانسې ولسمشر ايمانوېل مکرون له خپل ايراني سياله غوښتي چې د نړۍ له قدرتونو سره د ۲۰۱۵ ميلادي کال اټومي تړون ته بېرته ور وګرځي.

دواړو ولسمشرانو په همدې تړاو ټليفوني خبرې کړي او له ايرانه غوښتل شوي چې له ځنډ پرته په ويانا کې درول شوې خبرې بېرته پيل او اټومي فعاليتونه ودروي. د ايران نوي سخت دريځه ولسمشر ابراهيم رييسي بيا ويلي، تر هرڅه لومړی بايد د ايران د حقونو ضمانت وشي.

د ايران د ولسمشرۍ ماڼۍ پر خپله وېبپاڼه ليکلي، په يو ساعته خبرو کې د دوی ولسمشر پر دې ټينګار وکړ چې تړون ته د ور ګرځېدو په صورت کې بايد د ايرانيانو ټولې ګټې باوري شي.

فرانسه داسې مهال له ايران څخه اټومي تړون ته د بېرته ورګرځېدو غوښتنه کوي چې په دې وروستيو کې د اروپايي ټولنې يوه جګپوړي چارواکي ووېل، ايران چمتو دی چې د دغه هېواد د اټومي تړون په اړه ځنډېدلې خبرې د سپټمبر مياشتې په لومړيو کې بېرته پيل کړي.

فرانس پرېس او ډي‌پي‌اې اژانسونو په جلا راپورونو کې د اروپايي ټولنې د يوه جګپوړي چارواکي له قوله چې د خپل نوم نه ښودلو په شرطيې څرګندونې کړي، ويلي چې ايراني استازو په وروستيو ورځو کې ورته دا ډاډ ورکړی چې خبرې به په ويانا کې بېرته پيل شي.

د اروپايي ټولنې دغه چارواکي ويلي چې د ايران د اټومي پروګرام په اړه د اروپايي ټولنې مرکچي اينريکي مورا تېره اونۍ په تهران کې د ايران د نوي ولسمشر ابراهيم رييسي د لوړې په مراسمو کې ګډون کړی و او د ايران د مرکچي پلاوي له مشر حسين امير عبدالهيان سره يې په ځينو مواردو خبرې هم کړې دي.

د دغه چارواکي په وينا، ټاکل شوې چې امير عبدالهيان به د رييسي په کابينه کې د بهرنيو چارو د وزير دنده مخ ته وړي، خو تر اوسه پورې دا خبره رسمي نه ده اعلان شوې.

د يادونې ده چې واک ته د ولسمشر بايډن په راتګ سره نوموړي ووېل، که ايران خپلې ژمنې عملي کړي، دوی چمتو دي چې د ۲۰۱۵ز کال شوي اټومي تړون ته بېرته ور وګرځي. د امريکا مخکيني ولسمشر ډونالډ ټرمپ امريکا له دغه تړونه ايستلې وه.

مسير ورځپاڼه

مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
ايډيټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
ډيزاين: حسيب الرحمن ساحل

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

چاپخونه: وايګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۲۰مه | د ۲۰۲۱ د اګسټ ۱۱مه | ۷۶۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۴ | ۴۱ | ۳۶ | ۴۱ | ۳۴ |
| ۱۹ | ۱۹ | ۲۴ | ۲۶ | ۲۷ | ۲۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۸ | لمر ختل ۰۵:۱۱ | ماسپښين ۱۱:۵۹ | مازيګر ۰۴:۴۸ | ماښام ۰۶:۴۶ | ماخوستن ۰۸:۱۹

## نړۍ



## ماکرون: ایران دې د ۲۰۱۵ میلادي کال اټومي تړون ته بېرته ور وګرځي

۵

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له ۲۰۴ میلیونه او ۳۴۹ زرو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر ۲۰۴میلیونه او ۳۴۹ زره او ۹۹۷ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ويروس له کبله تر دې مهاله څلور میلیونه او ۳۲۰زره او ۷۶۹ کسان مړه شوي او له ۱۸۳ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د يادو شمېرو له مخې، د امريکا متحده ايالتونه د دغه ويروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانيانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امريکا کې د دغه ويروس مثبتي پېښي ۳۶ميليونه او ۷۸۰ زره او ۴۸۰ ته رسېدلي او ۶۳۳ زره او ۷۹۹ نور امريکايان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۳۱میلیونه او ۹۹۸ زره او ۱۵۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دويم، برازيل د ۲۰ميليونه او ۱۷۸ زره او ۱۴۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دريم، روسيه د شپږ ميليونه او ۴۹۱ زره او ۲۸۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د شپږ میلیونه او ۳۱۰ زره او ۹۳۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ويروس ډېري پېښې پکې ثبت شوي دي.

برېټانيا، ترکيه، ارجنټاين، کولمبيا او هسپانيا بيا په ترتيب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## د بښنې نړیوال سازمان: پاکستان دې د اقلیتونو د خوندیتوب لپاره جدي ګامونه اوچت کړي

د بښنې نړيوال سازمان يا امنيسټي انټرنېشنل له پاکستانه غوښتي چې د هندوانو او نورو اقليتونو سمه ساتنه وکړي. وروسته له هغې چې چاړواکو يو هندو اته کلن هلک مقدساتو ته د سپکاوي د سختو قوانينو پر اساس تورن کړ، يو شمېر کسانو د هندوانو پر يوه معبد بريد وکړ.

د راپورونو له مخې، دغه هلک چې ويل کېږي د پنجاب د بهونګ کلي د يوې ديني مدرسې په کتابتون کې باولې کړې، مقدساتو ته په سپکاوي تورن شوی دی. په پاکستان کې اسلام ته د سپکاوي سزا اعدام دی.

په ورته مهال د جنوبي اسيا لپاره د بښنې نړيوال سازمان کمپاينر ريميل محي الدين ويلي، چې په پاکستان کې مقدساتو ته د سپکاوي له قوانينو له ډېري مودې راهيسې ناوړه استفاده کېږي او اقليت ډلې په نښه کوي، خو دغه قضيه يوه ټکان ورکوونکې او سخته قضيه ده. نوموړي دغه راز ويلي چا چې پر معبد بريد کړی، بايد ورسره حساب وشي. په ورته مهال د پاکستان ملي اسامبلۍ دغه بريد چې په تړاو يې تر اوسه ۲۲ کسان نيول شوي، غندلی دی. ويل شوي چې تورن هندو هلک په يوه محافظتي توقيف کې دی او کورنۍ يې ځان پټ کړی.

## ژوند


## له ماشومانو سره په لوړ غږ خبرې مه کوئ



دا خبره ډېره مشهوره ده، هغه شخص چې په لوړ غږ او چيغو سره خبرې کوي، هغوی د کمزوري شخصيت څښتنان وي، دا ډول خلک دليل نه لري او په لوړ غږ خپلې کمزورۍ او نيمګړتياوې پټوي. په دې ډول هغه کسان چې پر ماشومانو غوسې کوي يا په لوړ غږ ورسره خبرې کوي، دا يوه داسې پخوانۍ او دوديزه طريقه ده چې مثبتې پايلې نه لري، بلکې رواني ستونزې زېږوي. نو اړينه ده چې له ماشومانو سره له دا ډول چلند څخه ډډه وکړو، څو د هغوی دننه چال، چلند ښه شي. رواني ډاکټران هم لارښوونه کوي چې له ماشومانو سره دې سخت چلند او په لوړ غږ خبرې ونه شي او له زيانونو څخه يې د ژغورلو طريقه هم ښودلې ده. کله چې والدين پر ماشومانو چيغې وهي، نو په همدې سبب هغوی تل د ماشومتوب بدې خاطرې يادوي او په ځان باور له لاسه ورکوي. دغه راز پر ماشوم چيغې وهل نه يوازې د هغوی کورنی ژوند اغېزمنوي، بلکې له کوره بهر هم له ستونزو سره مخ کېږي.

## هغه ماسک چې ٪۹۹ میکروبونه فلتر کوي

کرونا وايرس اوس هم په نړۍ کې په ورځني ډول د زرګونو کسانو ژوند اخلي او د روغتيايي کارپوهانو په باور، پر دغه وايرس د نه اخته کېدو تر ټولو غوره لاره ماسک کارول، ټولنيز واټن ساتل او د لاسونو وينځل دي. د ماسک ارزښت ته په کتو سره اکثره کمپنۍ هڅه کوي چې داسې ځانګړي ماسکونه جوړ کړي، چې د کاروونکو پاملرنې ځانته اړولو کې بريالي شي. د ګېمونو لپاره ځانګړي کمپيوټرونه او لپټاپونه جوړوونکې امريکايي کمپنۍ، ربزر، هم يو ځانګړی ماسک جوړ کړی چې له دې وړاندې د لاس وېګاس په سي اي اېس غونډه کې يې ننداري ته وړاندې کړی و. دغه ماسک هېزل پروژه نومول شوی دی چې ډېر ژر به په بېلابېلو هېوادونو کې خرڅلاو ته وړاندې شي. ربزر کمپنۍ وايي چې دغه ماسک ٪۹۹ ميکروبونه فلتر کوي او د همدې کال تر پايه به په نړيوالو بازارونو کې خرڅلاو ته وړاندې شي. د دغه ماسک د نورو ځانګړنو په اړه څه نه دي ويل شوي، خو داسې ښکاري چې د ربزر کمپنۍ د نورو توليداتو په څېر دغه ماسک هم د ګېمرانو لپاره ډيزاين شوی دی.



## منابع: سرپرست وزارت مالیه به علت فشارهای ارگ کارش را ترک کرده و به بیرون از کشور رفته است



منابعی به رسانه‌ها می گوید که خالد پاینده سرپرست وزارت مالیه به علت فشارهای ارگ کارش را ترک کرده و به بیرون از کشور رفته است.

منابع تایید می کنند که او دوباره به کشور بر نمی گردد. وزارت مالیه در این باره چیزی نمی گوید اما در یک مکتوبی که از آدرس این وزارت پخش شده آمده است که خالد پاینده به علت کار به بیرون از کشور رفته است و اکنون به جای وی عالم شاه ابراهیمی معین گمرک های وزارت مالیه از این وزارت سرپرست می کنند. خالد پاینده نیز تایید کرده است که از سمت اش استعفا داده است.

شماری از نماینده گان مردم می گوید که او در حالی این وزارت را ترک کرده که نه بندر مهم و درآمد زا به دست طالبان افتاده و درامدهای حکومت بیش از پنجاه درصدی کاهش یافته است. این منابع می گویند که آقای پاینده به کشور بر نمی گردد.

زلمی نوری، عضو کمیسیون مالی و بودجه ولسی جرگه، گفت: «در اطراف رئیس جمهور کسانی استند که تلاش می کنند افراد نفوذی خود را در وزارت مالیه جا به جا کنند تعیینات از اطراف رئیس جمهور می شود.» در همین حال این مکتوب وزارت مالیه نشان میدهد که آقای پاینده دو رو پیش درخواست کرده که به بیرون از کشور میرود و به جای وی عالم شاه ابراهیمی معین گمرکات این وزارت چون سرپرست گماشته شده است.

کوچنی او منځنی سوداګریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کېږي، ترلاسه کړي.

عزیزي بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af
1515